# الضحى

**مکی سورة دی ۱۱ آیتونه لری**

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

وَٱلضُّحَىٰ ١

**(قسم) په څاښت( چې لمر خپلې ځلانده پلوشې راخپرې کړی).**

وَٱلَّيۡلِ إِذَا سَجَىٰ ٢

**او (قسم) په شپه چې راخوره او( ټول شیان پخپله تیاره غېږ کې راونغاړی).**

مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلَىٰ ٣

**چې رب دې، نه ته پرې ایښی یې او نه یې درسره دښمنی پیل کړې ده.**

وَلَلۡأٓخِرَةُ خَيۡرٞ لَّكَ مِنَ ٱلۡأُولَىٰ ٤

**( د امت د لاربښود په حیث به ستا هر وروستی دور له لومړنی څخه ښه وی او د قوت او عزت، عروج او ارتقا مراحل دې مخې ته راروان دی. پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلی، زما د امت وروستی فتوحات ماته راوښودل شول چې زه ورباندې ډیر زیات خوښ شوم او الله تعالی راته وفرمایل چې) بی له شکه دې آخرت هم له دنیا نه ډیر غوره او بهتر دی.**

وَلَسَوۡفَ يُعۡطِيكَ رَبُّكَ فَتَرۡضَىٰٓ ٥

**او ډیر زر به هغه (ستر دنیوی فتوحات  او په آخرت کې مقام محمود او د شفاعت صلاحیت هم) درکړو چې ته به ورباندې خوشاله یې.**

أَلَمۡ يَجِدۡكَ يَتِيمٗا فَـَٔاوَىٰ ٦

**آیا ته یتیم نه وې چې پناه یې درکړه؟**

وَوَجَدَكَ ضَآلًّا فَهَدَىٰ ﴿٧﴾

**ته ناخبره وې نو لاربښوونه يې درته وکړه(د حق دين او د هغه اصول او شرعی احکام يې دروپيژندل، ايمان او قرآن يې در وپيژاند،او په هغو حقايقو او علومو يې وپوهولې چې د نبوت او په هر عصر کې د بشريت د لاربښوونې لپاره ضروری ګڼل کيدل).**

وَوَجَدَكَ عَآئِلًا فَأَغْنَىٰ ﴿٨﴾

**او ته بې وزلی او تنګلاسی وې نو شتمن او بې نيازه يې کړې.**

فَأَمَّا ٱلْيَتِيمَ فَلَا تَقْهَرْ ﴿٩﴾

**نو( د دې ټولو نعمتونو په شکرانه کې درته سپارښتنه دا ده چې:) هيڅکله په يتيم مه غصه کيږه.**

وَأَمَّا ٱلسَّآئِلَ فَلَا تَنْهَرْ ﴿١٠﴾

**او تش لاسی سوالګر مه رټه.**

وَأَمَّا بِنِعْمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّثْ ﴿١١﴾

**او تل د خپل رب نعمتونه( د شکر څرګندولو په نيت) يادوه.**

**« تمت سورة الضحی بفضل الله و رحمته»**

**=================**